# ښکلی کتاب

صفیه حلیم

د نثر غونډ

۱۹۹۹م

خپروونکي

بلک ارټ پرېس. پېښور

**بسم الله الرحمن الرحیم**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلی کتاب

په پښتو ژبه کې مې تر اوسه یو ښکلی کتاب نه دی لیدلی. یو داسې کتاب چې په غټو ښکلو تورو لیکل شوی وي، کاغذ یې غوړ او سپین وي او د املا یوه غلطي هم ونه لري. یو داسې کتاب چې انځورونه او تصویرونه هم پکې وي. او پوښ یې هم دومره کلک وي چې تر مودو یې پاڼې بېلې نشي. یو داسې کتاب چې خپلو سیالو ته یې وښیمه او دوې راته ووایي،

" په پښتو ژبه کې همداسې کتابونه چاپیږي؟"

خو مودې وشوې چې زه داسې کتاب په انتظار په ژېړ زېبښلي کاغذ چاپ کتابونه لولمه. د یو شمېر املایي تېروتنو له کبله مې خپرونکو ته ډېر غاښونه چیچلي دي. د وړو تورو په لوستلو مې د سترګو نظر کم شو.

داسې ښکاري چې د مودو راهیسې وچه ډوډۍ له پیازو سره خورمه، کله کله خو پیاز هم نه وي بس یوازې وچه ډوډۍ وي.

نو ځکه مې دا هوډ وکړو چې زه به نوره وچه ډوډۍ نه خورمه، زه دومره توان لرمه چې پخپله ژبه کې یو ښکلی کتاب چاپ کړمه. ګوره که د نورو هم ورته پام شي او په دې وچه ډوډۍ کې لږ غوړي هم وګډ کړي... د پیازو سره غوښه او نوره ترکاري هم ګډ کړي.

... دریغه که داسې وشي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منی (خزان)

نن چې زه له کوره وتلمه، نو د بوټ سره مې یوه وچه پاڼه ونښته. ما په یوه لاس دا پاڼه د بوټ نه رابېله کړه او یوه شېبه مې ورته وکتل. د ې وچې پاڼې په منځ کې د انسان د بدن د شریانونو په څېر سره رګونه غځېدلي وو. ما پلس وکتل، د ټولو ونو د زرغونو پاڼو ر ک طلایي شوی وو، زما د کور شا وخوا ټولې ونې ین غونډې وې. د منې په باد کې چې کومې پاڼې الوتلې د هغو ټولو رنګونه هغه رنګونه وو چې په پسرلي کې نه تر سترګو کېږي. نارنجي، خرمايي، د ادامو رنګ، د سرو خاورو رنګ، د غنمو د دانې ر ګ، او زما د محبوب د رستکي رنګ. ښايي دا رنګونه د هغه انځورګر نه پاتې شوي دي چې د پسرلي په رنګونو مزین دی.

ما دغه وچه پاڼه په خپل کتاب کې کېښوده او د هغې نه مې پوښتنه وکړه.

" ا قدر به څوک کوي؟ ته د زوال نښه یې. ستا په لیدو خلک غمجن شي. څکه ته د سړو بادونو او د ژمي الامه یې."

خو دې پاڼې ه خوب کې راته وویل. " نه...زه د ژوند نښه یم. وګوره... د کوم بوټي نه چې زه را بېله شوې یمه، د هغه ګلونه رژیدلي دي خو تخم یې پاتې دی. د دې تخم د بري انې په خېټه کې څومره نور ګلونه پټ دي. په دوی کې راتلونکی پسرلی پټ وي."

ما کتاب ټول کړو. د باده سره د الوتونکو پاڼو په ګډا مې د پسرلي ویر بند کړو او د منې لمانځنه مې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمدن

د مصر فرعون چې به کله واک ترلاسه کړو نو ورسره سم به يې د خپلې مقبرې په جوړولو هم لاس پورې کړ. د دې لپاره به پلانونه جوړ شول، ځای به وټاکل شو او مز ران او انځورګر به په کار وګمارل شول. کار به پيل شو او کلونه به رې واوښتل. هر فرعون چې ډېر کلونه ژوند کړی دی، په مقبره کې يې ډېر ځورونه جوړ شوي دي. هرکله چې به يو فرعون مړ شو او کاريګران به خبر شول چې اوس فلانی واکمن شوی دی. نو دوی به د پخواني فرعون مقبره مدغسې نيمګړې پرېښوده او د نوي فرعون د مقبرې د جوړېدو لپاره به ور وړاندې شول چې خپله مزدوري د لاسه ور نه کړي.

اوس که زرګونه کاله وروسته د ، مقبرو نيمګړو انځورنو ته څوک ځير شي نو فکر دې هم وکړي چې ايا هغو کارکوونکو به چې خپل کار به يې نيمګړی پرېښودو، هماغسې فکر نه کاوو لکه چې يې په دفترونو کې د يوه مشر په وتلو او د نوي مشر په راتللو، دفتري کارکوونکي کوي.

هر تمدن بدلېږي خو د انسان فطرت هماغسې دی...لکه چې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سهار ستوری

ه تا د سهار ستوری نه وي لیدلی، نو وې ګوره. ښه شیبه ورته ځیر شه. دا ستوری ټوله شپه په اسمان کې وي خو د دې ښکلا هغه وخت ډېره زیاته شي چې ټله شپه خپل ځادر وغوړوي. په دې وروستیو وختونو کې د شپې په وروستیو سلګیو کې د سهار د ستوري رڼا نوره هم زیاته شي. او د ؎ې ځلا سره دا ستوری د نورو ټولو ستورو تر ورکېدو وروستهٔ هم پخپل ځای ولاړ وي...داسې لکه چې د سهار د رڼا د ننداري لپاره ولاړ وي. او یا بیا د هغه شوخ ماشوم په شان چې نور ټول ترېنه کور ته تللي وي او دی اوس هم په لوبغالي کې لوبې کوي.

دا ستوری یعنې د سهار ستوری، ډېر خلک نه ویني. د دې د لیدو وخت ډېر نېکمرغه وخت وي. خو هغه وخت ر خلک ویده وي. او یوازې یو څو وي چې پدې وخت کې راپاسېدلی وي او ویښ وي.

دا وخت ټولو ته اسمان یاره ښکاري. که هسې اسمان ته نظر هم وکړې خو بیا ژر مخ ترې اړوي او پخپلو کارونو بوخت شي. که ته دا ستوری لیدل غواړې نو ښه ورته ځیر شه او دا پوښتنه ترې وکړه چې

تاته دا ښکلا، دا ځلا او دا رڼا څوک در کوي؟ شپه که ورځ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیشتري

سږ کال هم په پسرلي کې موږ کلي ته راغلي يو. د غنمو دانو د خپلو پوستکو نه ه را بهر کړي دي او ځينو بيا د ځمکو سينه پرې کړې کړي او د ونو ننداري ته ولاړ دي. د ځمکې د سينې نه هره ونه او وابښه ر ټوکيږي. او پدې کې د شوخو واړو ه شان د پيشتري نازکې پاڼې هم شاملې دي. خو دوی د نورو نه شرميږي. کله د غنمو تر بوټي لاندې او کله بيا د شلخی تر پلنو پاڼو لاندې ځان غلی کوي. .ې شوخو او معصوصو وړو بوټو ته يوازې وړې نازکې ګوتې ځان رسولای شي...د وړو جينکو ګوتې...دا جينکی ډلي ډلي لکه د چرچڼو سهار د خپلو شکريو او شکورونو سره پټو ته ورووځي او د پيشتري ساګ کوي. کله کله کخی ماما ورباندې غږ وکړي نو دوی په منډه شي. خو نوری زړه وري هم هلته په لويو بوټو کې ځان پټ کړي.

ږ کال هم دغه وړې جينکی روانې دي. خو زه پکې نه يمه. **زما د خپلو** لاسونو نه بد راځي. ما ګوتې نورې وړې پاتې نه دي. او زه اوس په لويو بوټو کې نشمه پټيدی...ځکه خو اوس زه ساګو ته نه ورځمه. اوس به زه ټول ژوند د پيشتري مړاوې او وچې پاڼې پخومـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستا کلیزه

نن زه بیا ستا د زېږیدو ورځ لمانځمه. د هر کال په شان...زما د زړه په زېرخانو کې یو محفل جوړېږي چې پکې ستا ټول یادونه لکه د رڼا بلیږي. او دا رڼاګانې رنګ لري. دې محفل کې د پېښو او حادثو مېلمانه اوړي را اوړي...ځینې ډېر خوشاله دي. ټول خاندي...او دا ټول مېلمانه د وخت په اورګاډي کې یوځای راغلي دي. هغسې لکه چې د یوه دفتر همکاران د خپل یوه همکار واده له ورځي. دوی ټولو ستا انتظار کاوو.

بیا ما د زمانو له مخه هغه پرده لرې کړه چې ته یې شاته ولاړ وې. ټولو لاسونه وپړکول. ټول مېلمانه راځي. زه او ته د هغوې خبرې اورو. ټول ماښام به همدې خبرو کې تېر شي.

بیا وروستی مېلمه هم ولاړ شي. زه سترګې پټې کړم او تا ته یو وچ ګل درکړمه. دا ګل زما ماضی دی. د ډېرو زمانو راهیسی مې په یوه کتاب کې ایښی وو.

ته دا ګل راواخلې او ورته وګورې. ستا سترګو ته زما ماضی او خپل حل تیرېږي. بیا د زمانې په ګرد کې ورک شې. او زه په ماضي کې پاتې شمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ملغلرې

په ښايست او سينګار کې هيڅ يو شی د ملغلرو سره ځان نشي برابرولی. سره او سپين د انسان د شوق لپاره څو څو ځلي خپله بڼه بدلوي. نو څو وارې پکې بدلون راوستل کيږي. کله ترې غوږوالی جوړيږي، کله ګوتې او کله امېل. کله يوازې د ښتو په بڼه کې د نړۍ د لويو خزانو په زېرخانو کې پټ شي او کله بيا ترې بازاري سکې جوړې شي.

خو ملغلره تل فطرت ته نژدې وي. د دې شکل پخپله فطرت جوړوي او که څوک ترې امېل يا والی جوړوي هم نو پخپله اصلي بڼه کې يې کاروي. کله دا ډېرې وړې هم وي، نو بې له دې چې سورې شي او لړۍ ترې جوړه شي، نور څه بدلون نه مومي. او کله چې ماتې را ماتې شي نو د خاورو په څېر مېده شي او په داروګانو کې حل شي.

شکه چې د سينګار لپاره به د ملغلرې غوندې بل فطري شی نه وي. ښايي خدای پاک به هم همدا غوښتل.

ډېدېځې نړۍ اوس بيا فطرت ته مخه کړې ده او عجيبه خبره دا ده چې د ملغلرې د ښايست د لا څرګندولو لپاره دا د تور پوستو ښځو په بدن د ننداري لپاره ځړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تلوسه**

کله چې وربځې د لمر سره پټ پټوني پيل کړي نو زه ټول کارونه پرېږدم او د دوی په ننداره شمه. سپينې وربځې لکه د وربښمو لوپټې د باد په زانګو کې زانګي. خو تورې وربځې بيا د مستو هاتيانو په شان د اسمان په ځنګله کې ځغلي.

ورو ورو هاتيان زيات شي. سپينې لوپټې والوزي، ورکې شي. دا شېبې ډېرې سختې وي. نه باران کېږي، نه وربځې خوځېږي او نه لمر ښکاري. داسې ښکاري لکه هر څه چې د يو څو شېبو لپاره په خپل ځای هک پک ودرېږي. دا هغه شېبه وي چې د جنګ نه لږ وړاندې د سپاهيانو زړونه بوږنوي. دا شېبې ډېرې درنې او ډېرې سختې وي.

يا يو ټک وشي. د باران لومړی څاڅکی همت وکړي. جنګ په ميدان کې يو منډان د جنګ نعره پورته کړي او لومړی غشی، لومړی توغندي، لومړی ډز **وشي**. په لومړي څاڅکي پسې نور هم ځان مخکې ته راواچوي...يو ناتار جوړ **شي**. د ځمکې نه لوخړه راپورته شي او په دې لوخړه کې د خاورې وږمې هم راپورته شي. يو شرپاری وي. او زما ټول ګروم، ټوله تلوسه د هغو برېبوکيو په لورې روانه شي ، په ځمکه جوړېږي او ماتېږي ــــــ جوړېږي او ماتېږي.

( د پېښور د اوړي بارانونه ته )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو اړخیزه مینه

په یوه تخته باندې چا ولیکل

" زه د خوارو سره مینه لرم"

ورځې چې تېرې شوې نو د یو بل چا دې لیکنې ته پام شو او لاندې یې ورته ولیکل.

"خواره ستا سره مینه نه لري"

د پښتو یوه لنډۍ ده چې

مینه په تلو راتلو زیاتیږي

کله راځه کله به زه درځم مینه

څوک په دې باور لري چې مینه یو اړخیزه شي کیدای. هر څوک غواړي چې د مینې په بدل کې مینه ترلاسه کړي. بنایې د دوو انسانانو ترمنځ مینه به همدغسې نوعیت لري. کله یو مئین د خپلې مینې احساس څرګند نه کړي نو کیدای شي معشوق هم ترېنه ډډه وکړي او ورو ورو د دوی هر نازک احساس ورک شي او مینه پای ته ورسیږي.

خو ریښتونې مینه تل پایي او پداسې حالت کې هم ژوندی وي چې معشوق ورته یخ پام هم ونه کړي.

د خدای سره مینه همدغسې وي او د فطرت د ښکلاوو او بوټو او ګلونو سره مینه هم یو اړخیزه وي

او د خوارو سره مینه... ایا مینه هم کیدای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمره

ځومره لمانځل شوی یې. کله خو ستا وړانګې د زرتشتیانو لپار "اهورا مزدا" شي. او کله بیا د لرغونو مصریانو لپاره " را "شي. او د روم د لوی سلطنت وګړو بیا درته "اپالو " ویل چې هره ورځ به د سرو زرو په خپلې ګاډي کې د دولسو اسونو سره د اسمان د ختیځې څنډې نه راښکاره شوې او په لوېدیځه څنډه کې به ترې ورک شوې.

اوس... ستا تودو وړانګو ته انسان نشي ټینګیدای او کله چې ته په خپل ټول شان او بې خنده د ځمکې په مخ خپل جلال وغوړوې نو د سوکړې اسونه کاواکه شي. ځنګلونه په اور وسوځي... ژوي مړه شي او انسان در په دره شي...نو...

ه ته غواړې چې انسان یو وارې بیا تا هماغسې ولمانځي نو داستا نادانې ...ځکه چې دی اوس پوهه لرې...دی اوس خبر دی چې ته هم معبود لرې...ته پخپله ؛ خپل رب په اختیار کې یې...ځکه خو...مودې وشوې چې خلک ستا عبادت نه کوي...او ځکه خو... اوس ستا معبدونه د لارویو لپاره د سېل او یا هم عبرت مرکزونه ګرځېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیوری

د ژوند په سترو لارو کې یو سیوری زما مل دی. که زما مخ لمر ته وي او که نه ...خو دا سیوری تل راپسې وي. په تکنده غرمه کې چې کله لمر پر سر ودرېږ ي او د هیڅ شي سیوری نه جوړیږي، نو زه بیا هم خپل مل لرمه.

کله کله خو زه د خپل دغه مل د خولې خپل نوم اورمه. " انې...ته خبره واوره..."

او زه چې دا غږ واورمه نو په منډه شمه. خو سیوری هم راپسې وي، په منډه منډه...

د کله چې زما ګامونه ګړندی شي نو په غږ کې تلوسه نوره هم ډېره شی... "ودرېږه...انې...اوس مه ځه...خبر دی...ایساره شه..."

زه خپل قدمونه ورو کړمه...سیوری زما په څنګ کې روان شي...

زه خبرې ته خوله جوړومه خو هیڅ نشمه ویلی. هغه راته وایي..." خبرې وکړه...ولې پټه خوله یې..."

خو زه ورته نه ګورمه...وېرېږمه...چې که مې ورته وکتل نو زه به د کاڼي شمه و هم هلته په ځمکه کې ښخه پاته شمه. ځکه خو مودې وشوې چې کله زه په لاره ځمه نو شا ته نه ګورمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشرف المخلوقات

په تیونس کې دوه نیم زره کاله پخوا د "کرتاژ" ن او مذهب منونکو د جنگ یا
د یو بل قدرتي افت نه د ځان ژغورلو لپاره خپل ماشومان د خپلو پیرانو معبد ته
بوتلل. هلته به یې د ماشوم سر د دېوال سره ووهلو او بیا به یې د معبد په قربان
ګاه کې وسوځوو. تر ځولو وروسته به یې د ماشوم خاورې ایرې په یوې کتوې
ا منګوتې کې واچولې، سر به یې پسې وتړو او قربان ګاه ته نژدې په یوې
ګړي هدیرې کې به یې کېښودې.

د لاتینې امریکا د پېرو خلک بیا د کرتاژ تمدن تر هغو لږ زړه سواندی وو. د
دوی عقیده وه چې د دوی خدایان د هېواد تر ټولو لوړ غره "ساراسارا" کې
اوسیږي. او لکه چې هغه ترې ناراضه شي نو بیا طوفان وربانديې راولي او
واورې وربانديې اوروي. د دغو خدایانو د پخلاینې لپاره به ماشومان د غره تر
لو اوچتې څنډې ته بېول کېده. غره ته د ورتلو په ټوله لاره کې به یې سندرې
ویلې. بیا به یې ماشوم ته د بنګو په څېر یو بوټۍ ورکړو. چې په هغه به ماشوم
بې هوشه شو.. په همدې بې هوشۍ کې به یې ماشوم د ناستې په انداز کې په یوه
بوجۍ کې بند کړو او په غره کې به یې ښخ کړو. ورسره به یې د سپینو جوړه یوه
وړه هوسۍ (لامه) یا د ـمري بت هم کېښودو. ې ټولو مراسمو ته به دوی
"کاما کوچا " ویل.

ایـــــا داســـــــــې ځنـــــاور په دنیـــــا کې شـــــــــته چې د خپل ځان د
ساتلو لپاره خپل اولاد وژنـــــــــې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رنګونو اتڼ

د کاغذ هر میدان تش وو. لیري یو ساز غږیدو. سور راپاڅېدو او ژېړ ته یې
لاس وړاندې کړ. دواړه ورو ورو په نڅا شول. د دوی وجود له یو بل سره
ولګیدو. او نابېره نارنجي هم ورسره مل شو. ئنه چې کله میدان ته راتوب کړو
نو ژېړ بیا د ده لاس ونیولو او د اتڼ په نغمه کې جوش پېدا شو. همدغه وخت ژیړ
او شنه، نیلا راوزیږووو. . هر یوه د نڅا نه نوي رنګونه میدان ته راوتل. کاسني،
**اودي، سواري،** ېروزي، لارجوردي، ګلابي...او بیا د نړۍ په مخ د سرور داسې
څپې خپرې شوې د انســـــــــــــــان ستـــــــــــــــــرګې یې
تـــــــــــــــــــــــــــــــــر اوسه په کتلـــــــــــــــــــــــــــــــــو نه مړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړه خبره

ما د انتظار شېبې په ټول کاینات وغځېدې. ږس ماته ټول غږونه بې معنا شول. شا خوا خلک راته ژوندي نه ښکاري. د خپل زړه درزا سمه اوریدی شمه. خو په دې کې بل غږ هم د کړسها ی دی چې ما ورته غوږ نیولی دی. سترګې مې تت اور ته نیولی دی. ر ځه تیار دي. د ایشېدلو اوبو پیاله مې هم جوخته ایښې ده. وخت پوره شوه. زما په زهن کې یوه ګړی شرنګ وکړي او زه د دېګ نه سر لیری کړمه. د هیروشیما په ښار کې د اېټم بم لوخړه راپورته شي.

زه یو څو دانې وریجې په کفګیر کې راواخلمه او د دېګ سر ژر بند کړمه.

په دې وخت کې زما زهن په دریو برخو کې وېشلی وي. هره برخه راته یوه یوه بېله بېله خبره کوي. یوه وایي، " که نرمې وي نو هوا ورله وکړه "

بله وایي،

" که کلکې وي نو ایشېدلي اوبه پرې وشینده او څو شېبې دمه ورته وکړه."

خو دریمه برخه راته تر ټولو سپېره خبره کوي،

" شوله شوې؟ ...حلوا دې کړې...هاهاها...

زه د وریجو دانې د کفګیر په سر په ګوتو مروړمه او یو څو پکې خولې ته کړمه. سمدلاسه د وخت واګې یو ځل بیا زما په لاس کې شي. . ورځې خواري مې پر ځای شوه. لږه شېبه وروسته ټول مېلمانه په دسترخوان ناست وریجې خوري. خو ما د څو شېبو د تشنج نه خبر نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لباس

د ډوډۍ نه مې يو څو پېسې وسپمولې چې ځان ته نوې جامې واخلم. زه پوهېږم چې دا پېسې به بس نه وی. خو بيا هم د ښار په ټولو دکانونو کې وګرځيدم چې د خپل وس سره سمې يوه جوړه جامې **واخلم**. خو ونه شوه.

چا راته وويل، په کباړ کې يې ولټوه. خو زما کميس پرتوګ په نورو ملکونو کې رواج نه دي. باړ خو هم ګران دی. يوه کباړي راته وويل چې د ښار د اوچتو کورنيو خلک د وی نه هغه جامې وړي چې د لندن او نيويارک نښې او ټاپې ې لګيدلي وي. ىو هيڅوک پرې شک نه کوي چې دا کباړ دی. او د ځينو ږيانو مخې ته خو ما پخپله لوی لوی موټري وليدې.

زما يوه جوړه جامې په کار وې خو تر ډېرو هڅو وروسته مې اخر په يو وړوکی دوکان کې يوه جوړه وموندله چې تر اصل قيمت ارزانه شوې وه. او د بيې د ټيټېدو سبب يې دا وو چې په کميس کې يې جېب نه وو. زما همداسې جوړه پکار **وه...اوس مې** دا جامې په تن کې دي او زه ډېر خوشاله په دې يم چې جېب نه **لرم**. ځکه زما سره په جېب کې د اېښودو لپاره هيڅ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کنسرټ

دغه شپږ کلن ماشوم چې سهار شپږ بجې د مور په غږ نه راپاڅیږي نو هغه تړېنه ورو شړی راکا ، او دی په ځمکه ودروي. بیا دغه شپږ کلن ماشوم د خپلو شپږو ورونو خویندو سره په خوبولو سترګو چای وڅښي او له کوره ووځي. د ه قدمونه لکه د مشین، د خپل مشر ورور په پله ورځي او اته بجې د کار ځای ته ورسیږي. هلته دی د موسیقی د الاتو د غږونکو په شان... چنګک په لاس کې ,اخلي او د ګوتو په سر یوې ځړېدونکي نابشپړې قالینې ته کښیني. بیا د ه لاسونه ورو ورو وخوځي. ړې وړې ګوتې د وړی په تارونو کې د درد نغمې غږوي. دی یوازې هغه سر غږوي چې استاد یې ورته وایي. کله نا کله د ه ې سترې شي، ګوتې یې درد وکړي خو د ده نغمه نه بندیږي. د ده ګوتې ماښام هغه وخت ودریږي چې کله سمفوني پای ته ورسیږي. بیا چې کله دا شپږ کلن ماشوم ماښام شپږ بجې کور ته راورسیږي نو په خوبولو سترګو د خپلو شپږو ورونو خویندو سره ډوډۍ وخوري او سمدستي ویده شي. کله نا کله چې یې مور ﮋ ده په پړسېدلو او پرهر ګوتو لهم لګوي نو دی ژاړي. د ده دا خیال دی چې د نړۍ ټول ماشومان د ده په شان ژوند کوي...بیا...د ده په وړو ګوتو جوړه سمفوني د یوې لویې قالینې په کنسرټ کې غږیږي او کله چې د نړۍ په یوه بل ټ کې څوک دا کنسرټ اوري نو د خوښۍ احساس لاپسې ډېر شي. هغه مهال د قالین په کنسرټ کې هیڅوک د دې شپږ کلن ماشوم له ګوتو څڅېدلي وینې نه ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور او اوبه

ساینس پوهان وايي چې د انسان د ژوند لپاره اوبه تر ټولو ضروري دي. هو... اوبه به د مادي ژوند لپاره ضروري وي. خو په انسان کې د تخليق ژونکي په اور پايي. د ده نازک احساس رڼا ته اړتيا لري. د ده جذبات لکه د اور لمبې کېدل غواړي. او د دې ټولو احساساتو اظهار په اور سره کېږي.

انسان د خپل عقيدت اظهار په معبدونو کې د شمعو او ډيوو په بلولو سره کوي. ځکه د ، په لمبه کې ده ته رنګارنګ ښاپيرۍ ښکاري. ګونه چې د خوښۍ او پسرلي علامه وي او رڼا، چې د ورځې او ويښ ژوند نښه وي... ښايي چې انسان اړو نه له دې کبله کرکه کوي چې دا د باطل نښه وي. توره شپه د خوب وخت ښيي. خوب چې د مرګ بل نوم دی. او انسان مرګ نه غواړي ځکه خو اور ورته د ژوند پيغام ورکوي. که څه هم د ده ژوند په اصل کې په اوبو ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوند

د ژمي د باران جړۍ به ولګېده نو ټول به د کلي په کوټه کې راټول وو. دا چې ټوله ورځ به څرنګه تېریده؟ نه مې یادیږي. خو مازدیګر به یوې ښځې یو لوی ـانک د نغري سره نژدې په ځمکه کېښود او د ګوړي کک به یې پکې واړوو.

موږ ماشومان به ټول د دې خانک نه چارچاپېره کېناستو. دا مې هم نه په زړه کیږي چې په خانک کې به د کومې ښځې لاسونه وو، زما د ترور، نیا او که د بل چا؟ زما لپاره دا خبرې دومره زړه راښکونکي نه وې. زړه راښکونکې ننداره به دا وه چې ورو ورو به د ګوړي په کک کې سپین اوړه ګډېده، بیا به پکې هګۍ ماتې ، شوې. د هګیو ژېړ به تر هغه په دې ګډوله کې ښکارېدو چې سپین پۍ به یې نه وو وربانديې اړولی. ورو ورو به دا ټول رنګونه سره یو ځای شول او د ې نه به یو رنګ جوړ شو. شاتو رنګ. . یوه لویه تبۍ به په نغري سپره کړل شوه او زموږ سترګې به د غوړیو په هغې غټې ورښخې وې چې ورو ورو به په تبۍ ویلې کېده. بیا به دا غټۍ ورکه شوه او نابېره به د لرګي یوه ځمڅۍ، تبۍ ته راټیټه شوه. یو " نګ" به وشو او د دې په سر به شات رنګي ګډوله راوڅڅېده او یوه دایره لویېده او خوږ خوږ بوی به ورنه راپورته شو. کله چې به یې دغه دایره په یوه اوسپنیز کفګیر واړوه نو نارنجي رنګ به یې زما خوله او سږمې وتخنولې. او بیا چې به لومړۍ وېشله د هر چا تر خولې رسېده، هغه به ماته باچا ښکارېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مور

زما زویه! ته چې مې په غېږه کې سر کېږدې نو ټول وجود دې راټول شي. ستا مخ نوراني شي. ستا له سترګو ټول وحشت وتښتي. زه چې ستا تندی ښکلوم نو یو عجیبه سرور را په برخه شي. ستا د بدن سکون زما بدن ته کډه وکړي. ستا ټول وجود بېرته زما په وجود کې حل شي. او موږ یوې بلې دنیا ته ورشو، شنو باغونو، روانو چینو او د ښکلو مرغیو جهان ته.

چې کله ته وستکېږې نو زه دې په وېښتو کې ګوتې ووهمه. بیا دې وتخنومه نو ته د زړه د اخلاصه وخاندې ستا په دې خندا زما ټوله ستړیا لیرې شي. دا شېبې زما لپاره ابدي‌شي. زما نه هغه فکر هم لیرې شي چې ته به یوه ورځ لوی شې، یو پوره سړی به یې. ځان له به بله ځاله جوړوې، د یوې بلې ښځې په سینه به ٍ سر اېښې وي. د هغې په غېږ کې به هم ستا لپاره سرور وي. نو ښایي د ړې ښځې مینه د مور وي او د هر نارینه مینه د ماشوم مینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې نومه قبر

د هر انسان ژوند د یو څو کیسو غونډ وي. خو هره کیسه به نه لیکل کېږي. د هر شاعر او لیکوال د ژوند د ځینو پېښو په بېلا بېل ډول کاغذ ته مخه کړې وي. خو عجیبه ده، په پښتو شعر کې د معشوق د حسن، ادا، ناز، جفا او د مینې په هکله هر څوک خبر وي خو نوم یې چاته څرګند نه وي.

خوشحال خان د شعر هغه نازک بدن به څه نومېدو چې د شونډو د شراب ستاینه یې اوس هم کېږي. د حمید مومند هغه معشوق په کوم نوم یادېدو چې د هغه په سفر ده د خپل غم څرګندونه په یوه اوږده نظم کې وکړه. د رحمان، محبوب ـوک وو؟ ښځې سرې څه نومېدل؟ په کوم ځای کې ښخ دي؟ او خپلوان به یې چرته وي؟

د ـښته هیڅوک نه کوي. نه څوک دعا کوي او نه هم څوک مننه ورته وایي چې که دوی نه وایي نو ښایي د خوشحال، رحمان او حمید په شعر کې به دومره ـکلا نه وای.

ـ دوهم نړیوال جنګ کې په زرګونو پوځیان داسې هم مړه شول چې مړي یې ورک وو. ـ د یورپ په لویو ښارونو کې د همدې بې نومو او ورکو پوځیانو په ستازیتوب او یاد کې، یو یو قبر د نښې په توګه جوړ شوی دی او چې کله خلک قبرونو د ګلونو ګېډۍ ږدي نو هغه ټول بې نومه مړي پرې یادوي.

دریغه! چې څوک د یادګار په توګه یو داسې قبر جوړ کړي چې د پښتو شعر د ـلو معشوقو استازیتوب وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه لاسونه

د ځمکې او اسمان ترمنځ یوه نرۍ سپینه لیکه غځیدلې ده. په هم دې سپینه لیکه کې ښد ي چې اسمان د یوې ابي رنګې پیالې په شان، په یوې بلې خړ رنګې پیالې، اړولی پروت دی. دغه نرۍ سپینه لیکه کله کله غټه شي. د ځمکې او اسمان ترمنځ دا ننداره زه د ډېرو کلونو راهیسې ګورمه. په هر سفر کې زه د الوتکې د کړکۍ نه دا ننداره کومه. ه ځمکه راته ځمکه ښکاري او نه اسمان هغه اسمان وي. ، په خلا کې د ورېځو لوی لوی غونډارې لکه د مالوچو غونډې اوړي را اوړي. نابېره زه د خپله ځایه راپاڅمه او پدې غونډارو ټوپ کړمه. د یوه ماشوم په څېر ټوپونه ورباندې ووهمه. زما وجود هم د مالوچو په شان سپک شي. زه د یوه غونډارې نه بل ته ورلوېږمه او بیا نابېره ځمکې ته روانه شمه... ښکته تکه توره تیاره وي....زه خپل ځان د باران د سیلۍ څپو ته ور وسپارمه. زه خبره یمه چې ښکته په ځمکه به دوه قوي او تاوده لاسونه ما ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشاله ګونځې

زما مخ ته وګوره... زما تندي ته ځیر شه... په دې کې به تاته ګونځې ښکاره شي، ځکه ما په ژوند کې ډېر فکر او تردد نه دی کړی. په دې دومره لویه نړۍ کې چې ما هر نوی شی لېدلو نو هغه ته به مې وروځې اوچتې شوې. ځکه زما په تندي دا تتې درې لیکې د دې استعجاب مهرونه دي. زما سترګو ته هم ځیر شه. د دې شاوخوا تورې حلقې زما د ژوند د شپو سیوري دي... هغه شپې چې ما به پکې کتابونه ولوستل، هغه شپې چې ما د خپلې محبوبې په یاد سبا کولې. زما د سترګو شا وخوا ډېرې ګونځې دي. په دې کې ډېرې له هغه وخت راهیسې جوړې دي چې ما په ډکه خوله خندا زده کړه.

اوس زما ږیرې ته ځیر شه چې هر ویښته یې لکه د سپینو زرو ځلیږي. خو ته تر دې ویښتو لاندې پټې ګونجې هم ولټوه چې زما په باړخو او شونډو شاوخوا له هغه وخت نه جوړې دي چې په دې نړۍ کې زما ایله یو څو ورځې شوي وې. دا ګونځې زما د خوشحاله وختونو سند دی.

ته داسې مه ګڼه چې ما به په ژوند کې غم نه وي لېدلی. ما هم د نورو انسانو په څېر د خپلې برخې غم ګاللی دی. هم ډېرې بدې ورځې لیدلې دي. خو ما به په ژور غم کې خوشحاله وختونه یادول. زه په دې پوهیدم که مې غم ځان ته پخپله رالنډ نه کړو نو دا به مې تېر کړي. که دې پدې خبره باور نه کیږي نو زما سترګو ته ځیر شه. ځکه که انسان زوړ هم شي نو سترګې یې نه زړیږي او سترګې چیرې هم دروغ نه وایي.

( یو سپین ږیري د انځور په لیدو )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما باغ

زما باغ زما د ستړي ژوند نه د ارام هغه ځای دی چې زه په هيڅ قيمت په بل ځای بدلول نه غواړمه. پدې وړوکي ګلبڼ کې زما دنيا راټوله ده. ډېر بوټي ما پخپله پکې کرلې دي. خو د نورو نښې هم پکې شته دي. د دغه کور پخوانيو مالکانو د لاسونو لګېدلي بوټي، چې کاسني ګلونه پکې هر کال راټوکېږي، ما ته دا فکر راکوي چې انسان فاني دی. بوټي پاتې شي خو لګوونکي يې ورک شي. د دېوال سره جوخت د ليونډر يو بوټی چې مور راته لګولی وو، ټول کال شين وي...د مور د مينې په شان...کله کله چې مې دنيا ځوروي نو زه د دې بوټي يو ګل يا يوه شنه پاڼه راوشکوم، په ګوتو کې يې ومروړم، د ليونډر وږمه ترې راپورته شي او ماته د مور د وجود خوشبويي را په ياد شي. ها خوا د لرګي د تختې سره د ژېړ ګلاب بوټی دی. د ې نازک ګلونه زما د ژوند د ملګري ډېر خوښ دی او دا بوټی هم هغه راته لګولی دی. په همدې قطار کې د ريحان بوټی م دی چې کله خوشحاله ښکاري او کله خفه. ، بوټي ته ما ډېرې کيسې کړي دي. ځکه خو زما په غم غمجن او په خوشخالۍ مې خوشحال وي. دې بل لاس ته د سرو ګلابو بوټی دی او د ، د ګلونو رنګ هغه وخت اناري شي چې لمر پرې لګيږي. د اطلس ژېړ ګلونه مې د خور د لاس نښه ده. که دې بوټي ته زه اوبه ورکړم او که يې ور نه کړم، په دې کې ګلونه هرومرو کېږي. هماغسې لکه چې خور راته د مفتو مشورې راکوي. او د ورور د لاس لګيدلي د صنوبر ونه اوس د هغه د قد نه هم اوچته شوې ده. زه چې د دې د تنې سره ډډه ولګومه نو هغه اعتماد راپکې بيا پېدا شي چې دنيا را نه وړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعرانو ته

د انسانا ـ بد رنګ ورته ـلې نه ښکاري. د دوی د پلنو پوزو، کږو غاښونو او و شونډو ستاینه ولې نه کوي؟ دوی ته لنډ ویښته ولې خوند نه ورکوي. دوی د عامو خلکو د عام ژوند لپاره ولې شعر نه وایي؟؟؟.

دوی د خدای د قدرت ثنا وایي. فطرت ننداروته ځیر وي او په هر شي کې ـرته د شعر موضوع ښکاري. نو بیا ولې د ټیټې ونې(قد)، غټې خېټې او د بوی لرونکي خولې په هکله څه نه لیکي. ا دا هر څه قدرت نه دی؟ او که شاوخوا ګوری نو د انسانانو یو زیات شمېر د دوی د ښکلا په تله بشپړ نه خیژي.

دوی که ډېره توره وکړي نو د یوه مزدور خوله، د یوه کروندګر خواري او د یوه کاریګر تور لاسونه وستایي. نو بیا دوی ولې په هغه حسن پسې ګرځي چې لږو ته ور په برخه وي.

ی هم د عامو انسانانو په څېر وي. ځکه عام انسانان هم هغه شي ته ډېر ښت ورکوي چې نایابه وي. او هر هغه څه چې موندل یې اسانه نه وي د هغه بیه هم ډېره وي.

شاعران چې ځان د نورو خلکو نه جلا او کله کله اوچت ښیي، نو بیا یې ولې د دوي ارزښتونه له نورو بېل نه دي. دوی د نایابه حسن په ستاینه کې دېوانونه ولیکي...خو هغه کسان چې ډوډۍ ورله پخوي او دوی د سړیتوب په حد کې ساتي، د هغو لپاره له خلې یوه خوږه خبره ویستل هم ورته لوی عذاب وي.

« شاعره! ته به کله نوی مضمون لیکې»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زندان

دا دوه زره او څلور سوه کاله ترمخه زمانه ده. د اتن ( اېتهنز) په یوه محکمه کې د قضاوت کوونکو ډله په دې بحث کـړي چې د پوښتنو څه سزا په کار ده؟ **ملزم** ، تورن دی چې پوښتنې یې پاروونکي وي. د ملزم وکیلان دلیل وړاندې کوي چې پوښتنې څ ، پوهې او زده کړې بنسټیزې تیږې دي. **خو د** ملزم پوښتنې هم ځیبه دي. دی پوښتني:

"ـه څه دي؟" ـم څه دي؟ "انصاف څه دی؟"

دی خپله هم د ـښتنو ځواب نه لري او غواړي چې ځواب یې پیدا کړي.

ـ اتن ښار په هر رېستوران کې دده په پوښتنو بحثونه روان دي:

"ـړه ورتوب څه **وي** زغم څه وي؟ اساطیر څوک دي؟"

دا وروستۍ پوښتنه خو ښېخي کفر ګڼل کیږي. او له همدې کبله ملزم ته وویل شول چې ترهغې به بندي وي تر څو د خپلو پوښتنو نه لاس وانخلي.

**اوس** دوه زره څلور سوه کاله وروسته، زه هغې زندان ته مخامخ ولاړ یمه چې ، ملزم پکې بندي وو. په سمڅه کې جوړې درې دروازې، نه خو د کوم معمار لخوا جوړې شوي دي او نه یې هم کوم هنرمند د ښکلا لپاره کومې تیږې ور تورـلي دي. **خو د** دې زندان دېوالونه یو عجیب غوندې غرور لري. **د بندي** خانې تورتم هر سهار د لمر په وړانګو روښانه شي او مخامخ **د** "اېکروپولیس" مرمري ستنې راښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ن پدې مازديګر کې لمر د زندان شا ته ډوبيږي. د خړو وريځو رنګ تک سور ښتی دی. ما د اوسپنيزې دروازې تر چولې زندان ته لاس ور دننه کړو، يو کاڼی مې ترې را اوچت کړو او په هغه کچه لاره روانه شومه چې لوی سړک ته وتله. خو هغه مهال ما هم په زړه کې ډېرې پوښتنې لرلې. د هغه زنداني نه مې پوښتل...

" اې قېدي! تا چې کله د زهرو پياله په خپلو لاسونو کې واخيسته نو هغه مهال دې د ابدي ژوند په هکله فکر کاوو؟

اې بندي! ايا ستا په سر کې هغه مهال دا فکر وو چې خپله مېرمن او درې اولادونه ه دې څه کوي؟

اې بنديوانه! ايا پخپله د زهرو ډکه پياله په سر پورته کول ستا مېړانه وه او که نه...ته مټکور وې؟

د غونډۍ نه اخوا د ښار په بله څنډه کې د علومو اکاډمي مخې ته د دغه بندي يوه لويه مجسمه ولاړه ده. هر کاله دوه ميليونه سيلانيان دلته راځي، د دې بندي نوم لږ ترلږه يو ځل هرومرو اخلي او د ده د مېړانې ستاينه کوي. س په دې ښار کې پوښتنې کول جرم نه دی. او د ې ښار د همدې غونډۍ نه ښکته د سوغاتونو يو دوکان دی چې د نقلي مرمرو نه جوړ د بوتانو د سرنو يو کتار پکې ولاړ دی. په دې کې د يو سر نوم "سقراط" دی او بيه يې دوه سوه دراخمه (يوناني سکه) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپه

د شپې په تور څادر کې یو سپین بځرکی هم نشته. بس دوې ندې سترګې دي، نور څادر ته ګوري او نرۍ نرۍ سپیني لیکي پکې انځوروي. ړدې توره پرده کې بیا یوه ځېره...دوې سترګې راوپنځیږي. خو دا ځېره ژوند نه لري. او سترګې یې د یونان د مرمرو د بوتانو په ځېر یوې خواته ګوري. په شونډو کې یې هم حرارت نشته.

او بیا د شپې تر .ې تور څادر لاندې دوه کاڼه غوږونه یو غږ اوري.

" ماته ژوند راکړه"

بیا بل غږ را پورته شي.

"ماته ژبه راکړه"

او وار په وار نور غږونه هم د دې سره ګډ شي او یو شور ماشور جوړ شي.

خو د شپې د دې تور څادر مخې ته دوې ړندې سترګې او دوه کاڼه غوږونه قلم په لاس د خپلې بې وسۍ ویر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زر کاله ژوند

زه اوږد ژوند نه غواړمه...خو پدې نړۍ کې مې لا ډېر کارونه تراوسه نه دي ېږي ځکه خو د دې د ترسره کولو لپاره زما زر کاله په کار دي...نه...نه... دا زر کاله ژوند زما د ښو خواړو، سپل، جامو او عېش لپاره نه دی په کار. زه د دې کلونو ډېره برخه د هنر لپاره غواړمه او په دې لړ کې مې دېرش کاله د انځورګرۍ لپاره په کار دي چې د فطرت هغه ښکلا چې لا تر اوسه د یوه انځور جوړونکي هم نه وي ورته پام شوی، زه جوړه کړم. زه د ستورو او سپوږمۍ رڼا او د ګلونو خوشبویي، د لولکۍ د رنګونو سره په یوځای کولو، یو ښکلی باغ نځورول غواړمه. او زه غواړمه چې د انسان د سترګو مسکا وکاږمه.

د دغه زر کلن ژوند نور شل کاله مې د ترکانۍ لپاره په کار دي. زه غواړمه چې د لرګي پرې ښکلې ـوازې او کړکۍ جوړې کړمه. ـه درې ګوټېزې، ګول او پنځه ګوټېزې دروازې جوړول غواړمه چې بیا پر ځینو ښکلي نقشونه وکاږمه. زه ښکلي مېزونه او چوکۍ هم جوړول غواړمه او دا یوازې د هغو خوارو او غریبو لیکوالانو او شاعرانو لپاره چې کاغذ پر ځنګانه ږدي او په غېرګه ملا لیکل کوي.

پنځوس کاله مې نور په دې لګیږي چې د سیندونو په غاړه پراته واړه کاڼي ولټومه او د دوی په منځ کې پټ پراته نقشونه وتوږمه چې بیا یې هغو خلکو ته ور ووښیمه چې پردې کاڼو ګرځي خو ورته ګوري نه.

زه نور دوه سوه کاله بیا د دې لپار غواړمه چې په د نړۍ کې ټولې ورانۍ، ویجاړي، ودانۍ، بیا له سره جوړي کړمه او هغه خلک پکې اباد کړمه چې بې کوره ګرځي.

او درې سوه کاله مې نور په کار دي چې د نړۍ د هر غمجن سره یوه یوه ورځ تېره کړمه او ورته ووایمه چې د خپل زړه نه ټول غمونه لیري کړه او د هر چا ه چې دې جنګ کړی دی، هغه ته ورشه او پخلا یې کړه. ځکه چې عمر ډېر لنډ دی او ته به زر کاله ژوندی نه یې...دا زر کاله ژوند یوازې زما په برخه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انجام

یو مئین ته خپله مینه ځانګړې ښکارې او داسې فکر کوي چې ټول عمر به د هغه په زهن او زړه کې د خپل دغه محبوب نه پرته د بل چا عکس نه جوړیږي.

هر مئین په خپلې مینې ویاړي. د نورو ټولو مینې ورته بې ارزښته ښکاري. او اړې خپله مینه ورته بې سارې بریښي. هغه مهال دا خبره رښتیا هم وي ځکه چې هره مینه ځانګړې ده، او د ، سبب دا دی چې هر انسان پخپله ځانګړی دی.

خو په میلیونونو مینو کې یوازې د لیلی او د قیس، د شیرین او فرهاد، د ادم او درخانۍ او د رومیو او جولیېټ په شان مینه مثالي مینه شي، چې انجام یې تل مرګ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وی ښاپیرۍ ته

ته ډېره مهربانه یې. تا ته زما ژوند او د سترګي ژوند ورځو ټول رازونه معلوم دي. لدې ظالمې نړۍ، چې هره ورځ زما د وجود د وینې وروستۍ څاڅکي هم ښښل غواړي، ته راته پنا راکوې. ته ماته هغه ټول توان په یوه شېبه کې بېرته راکوې چې د ژوند د یو لوی ماشین د چلولو لپاره یې زه د لاسه ورکومه. ته زما په پرهرونو خپلې شونډې او زما په ټکېدلي بدن . خپلو نرمو لاسونو پټۍ ږدې دلسې چې له ما د درد ټول احساس ورک شي.

، ښاپیرۍ ته د خدای د وجود یوه برخه یې چې د هغه به شان دې په هر چا خپله لمن غوړولې ده. ته دومره مهربانه یې چې په دار د ځړېدو په انتظار ولاړ کس پر سترګو هم خپل لاس ږدې. ته بېګا یو ځل بیا په ما مهربانه شوې او زما د سترګي ذهن ټول درانه پېټي دې په خپلو جادوګرو لاسونو پورته کړل. که څه هم زه وېرېدمه چې د بې وفا جانان د خبرو له کبله به ستا لاس ماته نه رارسیږي. خو تا د هغه په شان له ما لاس وانه خیستو.

اې د خوب مهربانې ښاپیرۍ! تا بېګا زه یو ځل په خپله غېږه کې ونیولمه خو اوس یو خواست درنه کومه چې زما جانان به هم په خپلو خبرو نا ارامه وي. زه خبره یمه چې که له ما یې لاس واخیستو نو خپل ځان به هم ستا د غېږې نه محروم وساتي.

ې مهربانې ښاپیرۍ! ته یوازې دومره وکړه چې هغه ته هم خپل لاس وغځوه...د هغه نه خپل لاس مه اخله. لدې سترګي ژوند، د سترو ورځو، په سترو شپو کې مونږ دواړه ستا غېږې ته پناه در وړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الف لیلی

هغه هره ورځ نوې کیسه جوړوي. خو کله چې ماښام د خپل باچا سره کښيني نو هغه ورته ووايي،" زه وږی يم ډوډۍ راکړه"

ورور او ورېنداري، د زوی او د لور، د ګاونډيانو، د سپي، د پيشو، د چرګانو او د هګيو، د جامو او پېزار کيسه... باچا چې ډوډۍ وخوري نو په کټ غځيږي...بيا وايي، "زه ستړی يم " او بيا کله چې د ده ستوماني وځي او ښه موړ هم وي نو ويده شي.

ا هر سهار په دې هيله خپل باچا ته وګوري چې کېدای شي نن به هغه د شهريار باچا په شان دا خپله ملکه کړي. خو که دا شهرزاد نورې زر شپې هم کيسې وکړي، ملکه به نه شي...دا به يوازې د باچا د اولادونو مور وي... ملکه شهرزاد نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپینه برستنه

د دوې لویه قافله د شنو ځمکو په لورې ځغلېده، هر چا هڅه کوله چې تر ټولو
ِاندې ځان ور ورسوي. په یو ځای کې نابېره کنګل لاسونه ترې چاپېره کړل
او د هر یوه تندی یې ښکل کړ.

ډ دوی د اوښانو په غاړو کې زنګولو یو مست ساز وغږوو او ټول په ګډا شول.
ښکته د زمرد په شان ځمکې خپله لمنه ورته پرانیسته. او په دې کې ناست هر یو
ژوی پوه شو چې په درنګ ساعت کې دا قافله راکوزېدونکې ده. دا وو چې بیا د
ـدې قافلې لومړۍ جوپه په ګډا ګډا د ځمکې لمنې ته ورښکته شوه. او ټولو ته یې
ـسپینې جامې ډالۍ کړې.

ونو او بوټو خپل سرونه ټیټ ونیول او دوهمې جوپې د ې په څانګو سپین
دستارونه وتړل. ټوله شپه دغه مېلمستیا روانه وه. او چې سهار شو نو ټول ویده
وو. و زمردي ځمکې سپینه برستنه په ځان هواره کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سیند په غاړه

د دې سیند اوبه تل روانې وي او په دې کې چیرې هم وچکالي نه ده راغلې. که یو وخت اوبه پکې لږې هم شي خو بیا هم دومره وي چې د ببړیو تل پکې ډوب وي. د دې سرچینه هم معلومه نه ده...ښایي زما په شان د ډېرو خلکو په اوښکو پایي.

زه به د دې سیند په غاړه په ساعتونو ناسته ومه. او چې د زړه بندونه به مې ورته پرانیستل نو د ده څپې به هم طوفاني شوې. پېړۍ واوختې خو د دې سیند اوبه وچې نه شوې. یو څو ځلې خو دومره طغیاني پکې راغله چې نژدې وه د خپلو غاړو نه یې هم سر پورته ، وای او هر څه به یې لاهو کړي وای.

بیا زما سترګې وچې شوې... زما د خیالاتو په پټي سوکړه راغله... نو سیند ته مې ښېرا وکړه او ترې پاسېدمه.

نن ډېره موده وروسته زما له سترګو دوه څاڅکي راپرېوتل. ، څوک راته په خوبولي غږ شعر وایي خو زما مړژوانده احساس وایي

" مـــــــــــــــا ته د ســـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــیند په غـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــاړه شعـــــــــــــر مه وایه"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معیار

زه چې وړوکی وم نو زموږ په کور کې هغه څه نه و چې د خپلو ملګرو کره به مې لیدل. د ډوډۍ سره به چټني نه وه، غوښه به مو کله کله خوړه. او سابه به ډېر پخېدل. مېوه به مو کله کله خوړه...زه به ښوونځي ته پلار به بایسکل رسولم...او هغه به په لاره دا خبره یوځلي هرومرو راته کوله چې دې به په پښو ښوونځي ته تللو. ده به راته ویل چې " مونږ به سهار سپوره ډوډۍ د اوبو سره خوړه" او وروسته به یې دا راته وویل چې " بختور سهار د تناره ګرمه ډوډۍ د خوږو چایو سره خورې"

هو هغه مهال ما خپل ځان غریب ګڼلو...یوه شپه په تکه توره تیاره کې ټېلي ویژن ته ناست ووم او په هغې لګېدلي شلو بټنو ته مې په دې اند کتل چې که موږ همدغه یو چېنل لرو نو دې نورو نولسو بټنو ته څه اړتیا ده.

ما زوی اوس په شلو چېنلونو کې هیڅ خوند ور شی نه وینې. ټوله شپه یې د ټلي ویژن ریموټ کنټرول په لاس کې وي او کله یو او کله بل چېنل اړوي را اړوي او وایي، " په دومره چېنلونو کې زما د خوښې هیڅ نشته" اوس وايي " بابا! کمپیوټر پکار دی زما ټول ملګري یې لري ما ته یې هم واخله" دی هر سهار غوړه ډوډۍ او هګۍ خوري. او بیا چې د ورځې د خرڅ پېسې اخلي نو وایي، " مونږ څومره د نېستۍ ژوند کوو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناوې

اې لمره! خپله رڼا راکړه چې زه یې په بدن ومښم.

اې سپوږمۍ! په خپلو یخو وړانګو زما مخ ومینځه.

زما د وېښتو یو یو تار راوسپړه او پکې خپله ځلا کېږده.

څوک دې ورشي او د لاله د ګل نه زما د شونډو لپاره سرخي راوړي.

ې راته د شپې نه لږ تور رنګ راوغواړي چې خپلې سترګې پرې توري کړمه.

اې باده! د رامبېل نه راته خوشبويي را والوزوه چې په جامو یې ووهمه.

ک دې له ستورو نه راته امېل جوړ کړي.

زه به پخپله د چینې د اوبو شور خپل پازېب کړمه.

زه نن ځان جوړول غواړمه...ځان سینګارول غواړمه...ځان ښکلی کول غواړمه...د هغه جانان لپاره چې نن به یې ووینمه. زه نن شپه د ټول کاینات حسن په خپلې بنارسۍ کې له ځانه سره وړل غواړمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څاڅکي

د هغه باران ډېر خوښ وو. کله چې به د ژمي جړی ولګېده نو دی به په لنده بل کې ګرځیدو، مخ به یې اسمان ته نیولی وو او هر یو څاڅکي به د ده وجود ته سرور ورکاوو. خلکو به ویل، دی لېونی دی. یوه ورځ همدغسی چې کله د باران د څاڅکو سره پېلبو پړک وهلو او د تالندې ټک شو نو دی په منډه شو، ده د طور د غره نه د راکوزېدو لاره نشوه پېدا کولې او د باران هر څاڅکې د ده لپاره د نوح طوفان شو.

همداسې کال تېر شو او اخر ده خپل ځان ومونډلو...ده د خپلې کوټې نه د تالندې غږ واوریدو...پېلبو یې ولیده. یو ځل بیا ورته د باران څاڅکي له اسمانه په ځمکه راپرېوتل...نو ده تر اوسپنیزو سیخونو لاس رابهر کړو. خو د هغه د لاس تلی همدغسې وچ پاتی شو. د باران څاڅکي د کوټې د چت نه وراخوا په هوا والوتل.

په سیمه کې سوکړه ر غلې وه او ورېځې وچې شوې وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تخلیق

ته په خپل قلم یوه دنیا جوړوې. ستا په دې دنیاګۍ کې هر هغه څه وي چې د خدای جوړه کړې دنیا یې لري...اې لیکواله! ته ځای او مقام... پېښې او حادثې ... او کردارونه یعني انسانان ... برخه لري. ته د خپل هر یوه کردار خالق شې. ته د هغوی خدای شې او هم ، څه ورباندې کوې چې زړه دې وغواړي. یوه ښه کردار ته انعام ورکوې او بد ته بیا سزا ټاکې.

خو که ته په رښتیا هم خالق یې نو بیا ستا په دې دنیاګۍ کې کله کله ستا خپل کردارونه باغي شي. که ته یوه څه غواړې او دوی بل څه کوي. منفي کردار مثبت کارونه پیل کړي. ښه سړی وران کاره شي. او ته ورته حېران پاتې شې ې دا ټول کردارونه خو ستا په لاس جوړ شوي دي، دوی ولې هغه څه نه کوي چې ته یې ترې غواړې.

ـایي خدای به هم د خپلو تخلیق کړو انسانانو په هکله هم داسې فکر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جرم اوسزا

داسې جرم چې يو ځوک يې په ترسره کولو کې بريالی شي نو سزا يې نه وي خو نه ځوک پکې پاتې راشي او جرم ترسره نه کړی شي نو بيا يې قانون نه پرېږدي. په ټوله نړۍ کې خلک همدغه اصول مني. خو يوازې جاپان داسې هېواد دی چې ځان وژنه پکې غېر قانوني نه ده.

ځان وژنه د مايوسۍ وروستی پړاوو او د مرستې لپاره وروستۍ چ ه وي. ځان وژونکی تر وروستيو شېبو په دې هيږ ي چې يو ځوک به يې وژغوري. هوډ يې پر ځای شي او هغه کسان چې دی يې په دې کار سره پښېمانه کول غواړي، پښېمانه به شي.

خو کله کله داسې نه کېږي ځکه نه خو يې ځوک مرستې ته راځي او نه هم پرې پښېمانه شي.

د ژوند کاروبار همدغسې روان وي. خو ځان وژونکی په خپلې ناپوهۍ کې خپل تر ټولو ارزښتمن شی (ژوند) د لاسه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه او ته

. جنګ او سولې ترمنځ هره شېبه يوه پېرۍ شي. په ځومره وړه خبره لکه د ملشومانو، د يو بل د پرزولو تکل وکړو په يو ځو شېبو کې مو ځان ته د پېړيو نا ارامي په بيه کړه. د ې نا ارامۍ هيڅ نوم نشته. بس داسې يو حالت وو لکه په بوټ کې چې يو کاڼی بند شي او يا هم په غاښونو کې د کاږو (خواږو وېلنو) يوه دانه وږ ... بل هيڅوک ترې خبر نه وي.

بس يوه پښېماني پاتې وه. هغه پښېماني چې پرون زما له قهره راوتلې وه او هغه قهر چې وړمه ورځ زما خپګان زېږولی وو.

بس د يو ځو شېبود بحث زېږده...داسې لکه د کدو ځيلی چې يوه شپه کې په دېوال وخيژي.

خو دا ټول منفي احساس د هغې ګلدستې د يوه ګل په مسکا د انځر ګل شو چې تا نن سهار راته ډالۍ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستی لیک

ته چې زما له ژونده ووتلې نو هره شپېه راته یو عذاب وو. به هر شي کې به مې ستا څېره لیدله او ستا د وجود احساس به یې راکاوه. هغه خوشبوی چې ستا خوښېدو، هغه بنګړي چې تا پرې کیسه لیکلې وه، لنډه دا چې زما شا وخوا داسې هیڅ شی نه وو چې په هغه کې به مې ستا د وجود عکس نه لیدو.

بیا مې د خپل لېونتوب علاج پخپله پېل کړ. هغه سندرې چې موږ په ګډه اورېدلي وې، اوس نه اورم...د سرو پټیو هغه ژېړ کمیس مې د بکس په تل کې کېښودو. په ځغو لارو مې قدمونه اخیستل بند کړل چې ستا سره به مې پرې تګ کاوو. هغه ګړي مې مات کړل، او هغه خوشبوی مې هم ورک کړو او د هغو خلکو نه هم ډېډه کومه چې ستا ذکر کوي.

ما بیا د خپل زړه نه چارچاپېره د اوسپنو دېوالونه وخېژول، هغه دېوالونه چې په خوا هم زما به ژوند کې وو او تا د خپلې مینې په اور ویلي کړي وو.

د اوسپنې ویلي شوي دېوالونه بیا له سره جوړول که څه هم ډېر ګران کار دی خو ناشونی راته نه ښکاري. او هسې هم ستا د مینې اور اوس په اوبو کې اوښتی دی.

اوبه یخېږي او یخی د اوسپنې دېوالونه نه شي ویلي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د طور نه

ته د څومره مودو راهیسې سرګردان وې. پخپل ځان پسې ګرځېدې. په **ما** ںومتوب کې به د ابراهیم په څېر تورو او سپوږمۍ ته حیران وې. د ورځې به دې لمر ته سجدې کولې. خو خپل ځان به دې نه شو موندلای. سر به دې په ځمکه کېښودو او په ژړا به شوې. . شک او ګمان په اور کې به سوځېدې. **د** خپل وجود جواز به دې غوښتو. اور به دې ورک شو او د ځمکې په یوه ګوټ کې به هم ستا د پناه ځای نه وو.

ایا په دې وخت کې به ما ستا لاس نه وو نیولی؟ هغه مهال چې تا خپل ځان مړ و، ما نه وې راژوندی کړی؟ نو که ته اوس هم په دې مادي نړۍ کې خپل ځان لټوې نو همدغسې سرګردان به ګرځې. ځکه چې د ابدي ژوند لاره هغه نه ده چې ته پرې روان یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېژندګلوي

زه د علم سره مينه لرم

خو کتاب په بيه نه اخلم

زه د سولې او امن منونکی يم

خو د بل چا د رايې د اورېدو زغم نه لرم

زه د بشري حقونو درناوی کوم

خو د ظالم حکمران په ضد غږ نه پورته کوم

زه په خپل هېواد وياړم

خو ژوند پکې نه کوم

زه د ښځې په ناموس ځان قربانوم

خو د هغې وهل ټکول خپل حق ګڼم

زه د مينې کيسې په خوند اورم

خو که زما اولاد مئين شي نو هغه وژنم

زه پاکوالی نيم ايمان ګڼم

خو په خپل ببر سر او خيرنو جامو وياړم

ه د خپل مذهب لپاره جنګ کوم

خو پخپله عبادت ته نه ورځم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایِ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**